# ادب څه شي دی؟

د ادب کلمه نن ورځ په اخبارونو او کتابونو کښې دونې عامه سوې ده چې د اکثرو خلکو غوږو ته رسګېدلې او ډېرو ویونکو ویلې ده.

د ادب کلمه خو په موږ کښې په یوه معنا خورا زړه او عامه ده، فلانی ادبناك دی، فلانی بګې ادبه دی، یعنې په اجتماعي رسمومو او ښېګړو پابندي او ساتنه د احترام د خلکو زموږ په زړه اصطلاح ادب باله کېده، چې په دې ډول نو ادب د اخلاقو تر خط ندی وتلی.

اما اوس د ادب د کلمې لمن ارته سوې ده، او ادب دومره ارته دایره میندلې ده، چې نن ورځ د هر ملت د تمدن او لوړتیا محرك او د ټولو اجتماعي ښېګړو مرکز دی.

د عربو ادیبانو به ویله چې ادب د هر شي د انتها پلټنه او اخذ دی، مګر دا تعریف تر ادب پر ثقافت باندې سم راځي، ځنې نور ادباء د ادب داسې تعریف کوي:

"ښه ویناکه نظم وي که نثر ..." مګر دا هم بشپړ تعریف ندی، ځکه چې د فلسفې خاص خاص کتابونه لکه د افلاطون او ډاروین آثارکه څه هم د بیان او ښکلې عبارت لخوا خورا لوړ دي مګر پخواني ادباء او نقاد یې له ادبي آثارو څخه نه ګڼي.

دا خو د پخوانو پوهانو رای وه، مګر په اوسنۍ زمانه کښې د ادب لمن  خورا پراخه سوې ده، نن ادیبان په هره خوا کښې ځي، او پر هر څه لیکنه او وینه کوي، نن ادباء په علم، اقتصاد، فلسفې او نورو موضوعاتو کښې ګډېږي، او د بحث او څېړنې راز یې بالکل پر بله خوا اړولی دی.

نن ادیبان لکه پخوا، یوازې په دې کښې زیار نه کاږي چې ښکلې وینا وکړي، یا د شعر په خیالي دنیا کښې وځغلي، کله د خولې په موهومه نقطه کښې محو سي، کله د یار د سرو مانندې ونې په ننداره کښې بېخوده سي. بلکې نن ورځ ادباء د ژوندون په حقیقي او واقعي مسئلو کښې پلټنه کوي، له خیاله څخه و حقیقت ته راغلي، له وهمه څخه د حقیقي دنیا وېش ته را اوښتي دي.

نن ورځ ادباء د ملتو د ژوندون په تطور او تبدل کښې لوی لاس لري د اولسونو د ارتقاء ملوني د ادباء په لاس دي، ادباء د یو ملت افکار او آراء د لوړتیا پر خوا بیایي.

نو دوی د ژوندون پر هر اړخ او د انسانانو د اجتماع پر هر څنګ رڼا اچوي، او انسانانو ته د حیات تیارې ور روښانه کوي. د علم او فلسفې د سیاست او اقتصاد د اخلاقو او اجتماعیاتو ملوني د ادباء په لاس کښې دي، حتی نن په دنیا کښې د توریالیو توري هم د ادباء د قلم په سیوري کښې بریښ کوي.

ولې هر ملت او هر ویښ او حساس اولس چې نن ورځ پر دنیا ژوندون کوي، په حقیقت کښې د دوی ویښوونکي ادباء دي.

نو نن ورځ ادیبان فقط ویونکي او شاعران نه دي، بلکې د ملتو لارښوونکي او ویښوونکي او پر لار سموونکي دي، له دغه جهته نو نن په دنیا کښې د ادب اهمیت تر هر څه ډېر دی، لکه چې یوه له خارجي مجلو څخه د دې اوسنۍ پېړۍ د ادب تعریف داسې کوي چې په رشتیا هم تر ټولو دغه د ادب ښه او بهتر تعریف دی:

"د ژوندون درس او وصف چې د حیات لوړتیا، او ارتقاء پکښې مقصد وي ..." په دې تعریف سره به نو اوس زموږ پښتانه ورونه وپوهېږي چې ادب پخوا څه وْ، او اوس څه شي سوی دی؟

نن ادب د ژوندون پر ټولو خواوو راګرزېدلی او پر بشریت په حقیقي ډول راچاپېر سوی دی، د اوسني

ادیب وظیفه هم دا ده، چي پر هر څه یې سترګي ونښلي هغه ته به تجمیل او ترقي ورکوي. د قدماء ادب خو فقط هغه اصول او علوم وه، چي په ژبه ورتوب او فصاحت او بلاغت یې اړه درلوده، مګر د نن ورځي ادب دومره ارت سوی دی چي د انسانانو د ژوندون د ټولو ښېګړو د پلټني او سموني ضامن دی.

په موږ کښي لا تر اوسه تقریباً ادب په هغه زاړه ډول موجود دی، او د اوسني ادب څخه لږ مستفید سوي یو، ادباء مو لا تر اوسه پر هغه لار یون کوي، تر اوسه لا نازك خیالان د ملا د وېښته پر نري توب کښي نري کیږي.

مګر خوشبختانه یوه بله خبره سته، چي د پښتو ادب او د پښتنو خپل ادبي افکار او تخیلات ټوله واقعي او حقیقي دي، یعني د خیالیت منفي خوا لږ لري، یا یې نه لري، چي ګویا د نوي دنیا د مترقي ادب سره په لږ زیار اوږه پر اوږه کېدای سي، اوس نو وخت دی، چي پښتانه د خپلو ملي لوړتیاوو په سلسله کښي خپل پښتني ادب هم پر اوسني ډول وروزي او د حقیقت خوا یې ښه ژوندۍ کي، او هغه د پردو اثرونه چي پر دغه ښکلي ادب باندي په کلو کلو سوي دي ورك یې کړي، او دغه ښکلي ادب ته پخپله حقیقي جامه کښي ننداره ورکړي.

زموږ ادب خو په رشتیا حقیقي دی، فقط دغه زوږ ادب پر عصري ډول روزل او ارتول او پالنه غواړي.

چي د ژوندن ټوله ښېګړي پکښي و میندل سي، او دا زموږ د پښتو ښکلی ادب په عصري ډول هم روزنه وموميٖ[1].

---

[1] طلوع افغان، ۱۳۱۷ لمریز کال، ۲۹ مه ګڼه، لومړی مخ.